مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۲/۲۳

# لویه تلوسه

نونسمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

### دوهمه برخه

### دویم فصل

**د هلمند اوبو ـ بډایه ساتل(ځواکمنول) او زیاتول**

په هلمند کې د اوبو د مصرفولو او غوښتنې سیاست باید د هلمند د اوسنیو اوبو پر اساس د اړتیا وړ اوبو د تامینولو پر بنیاد وي. خو کېدی شي د جمعیت د زیاتوالي او د هلمند په ټوله حوضه کې د پراختیا او د وچکالی او د ژوند چاپیریال د ستونځو له امله د دې اړتیا رامنځ ته شي چې دغې حوضې ته د هلمند حوضې د باندې اوبو څخه ورزیاتې شي. د ایران او افغانستان دواړو هیوادونو همکارۍ باید دغه مسئله هم په پام کې ونیسي. امکانات وخیرې. د آمو دریا سرخانګو (سرچینو) څخه د اوبو انتقالولو امکان، د پنجاب له سرخانګو(سرشاخونو) او کابل حوضې څخه د اوبو لېږدونه، د کاریزونو اوبو اخیستلو او ځمکلاندې اوبو کارول، د اوبو او مصرف شویو اوبو بیرته راګرځول (بیاځلي یا څوځلي چاڼ شوې اوبه) او داسې نور مطالعه شي. باید د ایران او افغانستان دواړه هیوادونه هلمند ته له نږدې حوزو څخه د اوبو د لېږدونې سیاست د کار په اجنډا کې ونیسي.

له نورو حوضو څخه د اوبو د لېږدونې مطالعات، له دې ډلې د کابل حوضې اوبه چې پاکستان او سند پر لور بهیږي، باید چارپوهانو له خوا ترسره شي. د سیمې پراختیا لپاره نشو کولای چې امنیت ته په تمه او انتظار کې پاتې شو. سوله او امنیت د پراختیا په ناشتون کې نشي راتلای. دواړه باید جوخت او یوځایې پر مخ ولاړ شي. ښکاره ده هغه څه چې دلته راځي د ایران او افغانستان له رسمي سیاستونو سره کومې اړیکې نلري او د کتاب یوازینې وړاندیز دا دی چې کولی شي هوکړو لپاره د اوږدو مذاکرو ستن او بنسټتومنه جوړه شي. د مذاکرو په بهییر کې به له لومړنیو وړاندیزونو سره به توپیر کې لاري چارې وموندل شي خو د اندنې او تفکر اساس به ثابت وي. د حقابی له مذاکرو څخه مخ ته تللو تفکر او کړي با ثباته سیمه ییزې پراختیا او د دواړو هیوادونو د پراختیا مذاکرو ته ورګډېدل. کومه نهایی موخه چې باید ده تر ۱۴۱۵(۲۰۳۶ م ) پورې تحقق ومومي د سیاسي پولو له منځه تلل او د دواړو هیوادونو اتحاد دی لکه هغه څه چې په اروپا کې پیښ شوي دي. د ایران او افغانستان دوو ملتونو هیڅکله د آلمان او فرانسي د دواړو ملتونو یو سلمه ستونزې هم ندي درلودلي.آلمان او فرانسي څو ځلې یو بل په ضد سختې وړانوونکې جګړې کړي دي چې مهمې هغه یې دوې نړیوالی جګړې دي(۲۲)

خو اوسمهال د اروپایي ټولنې دوه اصلي غړي دي او خپلې سیاسي پولې یې له منځه وړي دي، که څه هم فرهنګي پولې یې لا هم په خپل ځای دي. باید د ایران او افغانستان د مذاکرو روح په هغه لوری وي چې تر ۱۴۱۵ ( ۲۰۳۶ میلادی) پورې سیاسي پوله ونلرو. په لنډمهال کې د دې وړاندیز اساس دا دی چې حقابی ته رسېدنه باید د دواړو هیوادونو د سیندونو په حوزو کې او هریرود لپاره په دریواړه هیوادنو کې د سیمه ییز مشارکت د ټیکاومنۍ او باثباته پراختیا له لارې وي. سیاستونه باید دي پر ایجابی اصولو او واردو بنا وي نه پرسلبی. که څه هم سلبی سیاستونه په خپله په ځینو واردو کې ایجابي سیاستونو او لارو چارو ته لاسرسی لپاره یو ډول ملاتړ دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۲۲- آلمان او فرانسه همژبي ندي دوی دواړه له بيلابيلو فرهنګونو او ژبو برخمن دي.د لومړی او دوهمي جګړې او له هغوی وړاندې حتی د ۷۵۰ کلونو شخړو او جګړو مخينه لري.خو خبرو اترو او په سړه سينه (ځغم) او ګټلو- ګټلو سياست ته په پاملرني سره يې نن ورځ سياسي پولي اېسته کړي دي . دوه مسلمان ملتونه چې ګډ فرهنګ، تاريخ، او تمدن لري او يو د بل په ژبه پوهيږي، ولې خپل منځ کي کانکرېټي ديوالونه ودروي! امان د ګټلو – بايللو له سياستونو څخه!

زه دلته د اسلامي يووالي او فارسي ژبو هيوادونو د اتحاد چغه اوچتوم. هغه فرياد چې دوه سوه کاله کيږي غږ يې پورته شوئ. د اسلامي اتحاد او اسلامي هېوادونو د اتحاد ستونځه پدې کې وه چې تولو غوښتې په سر کې سياسی پلوه سره يو شي.دغه کار کېدونکی نه ده . بايد لومړی يې د اسلامي نړی سراسري اوسپنلارې، هوايي اړيکو ، د سوداګری او ګرځندوی او...د پراخولو له لارې پيل کړو. اسلامي نړی اړتيا لري چې ګيني خليج څخه د غنا په څېر هيوادونو څخه يوه اوسپنلاره (ريل پټلی) پيل شي او د سنېګال پلازميني ډاکار ته وغځول شي او له هغه ځايه مراکش، الجزاير، تونس، ليبيا، اردن، عراق، ايران، افغانستان، پاکستان، او هند ته ورسيږي. مالی او سوډان په څېر مسلمانو افريقايي هيوادونو اوسپنليکي ورسره وتړل شي. له يمن، عربستان، دمشق، انقرى،آذربايجان څخه دغه لارو سره ريل پټلی وتړل شي او ريلاره ماليزيا او اندونيزيا ته ورسيږي. ايا کېدی شي يوه ورځ کوم مسلمان د اسلامي نړئ له سراسري ريل لارئ له غنا جاکارتا ته سفر وکړي هرو مرو به هغه ورځ راورسيږي. اروپايی اتحاديه هم په پيل کې د بنولوکس هيوادونو له يوالی او هغه هم د فولادو او سکرو په سر ،پيل شوه . اتحاد بايد اقتصاد او اقتصادی ګټو څخه پيل شي او بيا سياسي اتحاد ته ورسيږي (د ډاکټر محمد حسين پاپلي يزدي نظريه) اتحاد بايد له دواو لوريو له ښکته پورته خوا پرلور(د امام موسی صدر نظريه) او له پورته ښکته پر لور (د سيدجمال الدين سعد آبادی [افغانی] نظريه) وي. ياني اسلامي اتحاد بايد د دوارو پاسنيو نظريو تلفيق + د ټول اسلام د اوسپني پټلی په څير يوه بيلګه بيزه پراختيايي همکاري وي.

| |
|---|
| **د دې کتاب په نظر يوازې د سيمه ييز مشارکت غښتلي پايښتمنه پراختيا او افغانستان او ايران په خاوره کې هلمند حوضې څخه د متناسبي او منطقي ګټې اخېستل دي چې له اوسني مخته ډېب اوترلي وضعيت څخه د وتلو موجب ګرځي. يوازې د اوبو برخي ترلاسه کولو لپاره کولو مذاکرې هماغه پايلي ته رسيږي چي له سلو کلونو وروسته رسيدلي يو.** |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**د افغانستان او ایران د هلمند حوضي پراختیا موډل**

**د امنیت ټینګول**

**د چاپیریالي ژوند د شرایطو ښه والی**

د بیخ بناو پراختیا | ***د زډکړي پراخونه*** | د روغتایي چارو پراخوالی

لوبي لاري- د اوسپني پټلی

د دولتي پانګو جذبول | | د بین المللی پانګو جذبول

د صنعتي کرکیلي او مالداری پراختیا او د اوبو لګښت راښکته کول | ***د سیمي له تجدیدونکي انرجي څخه ګټه اخیستنه*** | هغو صنایعو پراخول چې لږې اوبه مصرفوي

د ګرځندوی پراختیا | **د سیستان سیمي هلمند حوضي پراختیا (هلمند – ارغنداب )** | تولنیزو مناسبي زمیني رامنځ ته کول

د تعاونی، خیر ښیګڼي او وقف پانګی راجذبول | | د خصوصي برخي د پانګو جذبول

**د سوداګری پراخول**

---

د سولی او امنیت ټینګول

**د هریرود سیند (رودخانه)**

هریرود له افغانستان سرچینه اخلي او د ایران افغانستان او ایران ترکمنستان ګډه اوبیزه پوله جوړوي او بیا سرخس کي ترکمنستان خاورې ته ننوځي. دغه رود چې کله کله بیخي وچیږي، ایران او ترکمنستان ترمنځ د ګډو اوبو تر ټولو لوی سیند دی.

په مشترکو هیوادونو کې هریرود تر اوبو لاندي مساحت(کیلو متر مربع)۲۳

| مشترک هیوادونه | مساحت | سلنه |
| --- | --- | --- |
| افغانستان | ۳۸۳۰۰ | ۴۵ |
| ایران | ۲۹۴۵۰ | ۳۵ |
| ترکمنستان | ۱۶۶۳۷ | ۲۰ |
| ټولټال | ۸۴۳۸۷ | ۱۰۰ |

اخځ: په افغانستان کې د فاو مطالعات

د ایران او شوروي ترمنځ د۱۹۲۱ د فبروری د ۲۶ نیټي قرارداد له مخي له دې سیند څخه د ایران برخه سلو کي دیرش او د شوروی ۷۰ سلنه وه.(۲۴) د شوروي له ړنګیدو وروسته د مذاکرو او د ایران او ترکمنستان ترمنځ د دوستی بند د جوړولو پر مهال د ایران د اوبو ونډه ۵۰ سلنی ته لوړه شوې ده. دا د اوبو په برخه کې یوه دیپلماتیکه کامیابی ده. په اصولي توګه د دوستی بند جوړول، ترکمنستاني لوري له ټولو ستونځو سره چې په مشارکت کې یې درلودې پخپله په اوبو برخه کې یو دیپلماتیک بریالیتوب دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۲۳ - (په بیلابیلو مطالعاتو کي د هیوادونو د ونډي نسبت متفاوت یاد شوَی دَی . د رضوي خراسان سیمي د اوبو شرکت د افغانستان، ایران او ترکمنستان ونده په ترتیب سره ۴۲، ۳۸ او ۲۰ سلنه او د صنعتي شریف پوهنتون دغه سلنه په ترتیب سره ۳۲،۳۸ او ۳۰ اعلام کړي ده . خو د ترسره شویو مطالعاتو مطابق فاوو له خوا اعلام شوی نسبتونه حقیقت ته نږدي دي حتی د حوزی مساحت متفاوت یاد شوی دَی. هریرود ېي په زیاتو مطالعاتو کي د هغو کوشنیو رودونو له حوضي سره چي شمالی خراسان څخه سرچینه اخلي ګډي او یو ځای نېولي دی . پر دې سربیره د ترکمنستان د ریګستانونود مساحت یوه برخه چي شاید هر سلو کلونو کي کوم وار ېي هریرود ته اوبه ورکړي وي د حوضي په مساحت کي ور زیات کړي دي، پدي ترتیب د حوضي مساحت ۱۱۷ زره کیلو مترمربع کیږي.)

(۲۴) ـ د ۱۹۲۱د فبروری ۲۶ قرارداد لومړی ماده: د سرحد په اوږدو کي پل خاتون په نوم نومول شوي پل څخه د هریرود (تجن) د سیند ټولي اوبه په هغه لوری کي چي اوبه جریان مومي د متعاهدینو خواو ترمنځ په لسو برابرو برخو ویشل کیږي چي دری برخي ېي ایران او اوه نوری برخي به ېي د شوروي جماهیرو اتحاد ګټي اخیستو لپاره وي.

په لنډ وخت کي (له وړاندوینه شوي مهال په کمه موده کي د ۶۰ په ځای په ۴۸ میاشتو کي) په مشارکتي توګه او په مشارکتی مدیریت او د ایران د اوبو ونډي په ۲۰٪ زیاتوالي د ۲ / ۱ ملیارد مترمکعب اوبو په ظرفیت بند جوړونه چي د لوی خراسان او د هیواد د ټول ختیځ تر ټولو لوی بند دی پخپله یو دیپلماتیک بریالیتوب دَی.

سمه ده چي د بند په جوړونه کي زیاتي ستونځي موجودی وې چي ترکمنانو له خوا د اعتبار پخپل وخت نه ادا کول او هم د ستندردونو، معیارونو او د دواړو هیوادونو فنی ـ تخنیکی ضوابطو نه یوشانېتوب، ایران سره د ترکمنانو د ټېکنالوجی او محاسباتی اړخ نه همدولتوب ېي مهمي برخي ګڼل کېدي، خو دي ټولو سره سره بند جوړ شو. په هریرود کي د ایران او ترکمنستان دوه اړخیزه ډیپلماسي یو بریالیتوب ؤ خو په دې ډیپلماسی کي د افغانستان ځای تش دی. د دوستی بند په افغانستان باندي د طالبانو حکومت په وخت کي جوړ شوَی دَی. یاني هغه حکومت چي د ایران او ترکمنستان په ګډون د نړی د مطلق اکثریت هیوادونو له خوا په رسمیت نه ؤ پېژندل شوَی.

د هریرود د اوبو ډیپلماسي هغه مهال بشپړ بریالیتوب تر لاسه کولاي شي چي افغانستان سره ایران او ترکمنستان معاهدی او هوکړې ته ورسیږي. لدې امله په هریرود د پاسه د دوستی بند چي د ایران او ترکمنستان د ګډې همکارَی یوه بیلګه ده باید له ډیپلماتیک نظره د ایران، ترکمنستان او افغانستان د دری اړخیزې همکاری په یوې بیلګي بدله شي.

د ایران اسلامی جمهوریت افغانستان ا.ج. د هریرود په سر کوم تړون نه دی کړَی د اوبو په برخه کي زمونږ لومړنَی ډیپلماتیکه هڅه په ځانګړي توګه د هېواد په ختیځ لوري کي باید افغانستان سره یوې هوکړې ته رسیدل وي.

نور بیا

**ګډ ګټو هیوادونو ترمنځ د هریرود اوبڼدیزه حوضه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ